# وطنه مور يې زمونږ!

شوکت امله وال

## د ترانو غورچاڼ



پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځاریځ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

بسم الله الرحمن الرحيم


## د کتاب ځانګړنې

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | وطنه مور يې زمونږ! (د ترانو غورچاپ) |
| ټولونه | : | شوکت امله وال |
| ډيزاين چارې | : | صادق الله صادق |
| چاپ کال | : | ۱۳۹۵ ل |
| چاپشمېر | : | ۲۲۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | : | (۳۳۳) |

**خپرندوی**

**ګودر کتاب خپرنځی- ننګرهار**

ګودر کتاب او قرطاسيه پلورنځی، لانديني پوړ، اسحاق زي مارکېټ، بزازي څلورلارې، جلال اباد

اړيکې ۰۷۹۷۵۰۰۵۰۶-۰۷۹۸۴۸۷۸۷۹-۰۷۸۲۵۰۰۹۱۶

meenasadiqs@gmail.com



د چاپ ټول حقوق له ګودر کتاب خپرنځي سره خوندي دي


# وطنه مور يې زمونږ!

**(د ترانو غورچاپ)**

ټولونه: شوکت امله وال


پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وشارئ !
زموږ ټيلګرام چينل لينک 👇📚🌐
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فيسبوک پاڼه 👇
آريان پښتو کتابتون

## دا هځه!

آه! څومره د خوشالۍ خای دی، چې خواتان مو څومره له خپل وطن سره مینه بالي، آن د خپلو ادبي هلو ځلو په برخه کې یې هم د وطن مینه په زړه وي او د خپلو کړو هڅو په سر، سر کې ورته خای ورکوي.

خبره مې د (وطنه مور یې زمونږ!) د هغه ترانو غورچاڼ کتاب کوله، چې د تنکي هڅانده ژورنالیست او شاعر شوکت امله وال په هڅو او زیار چمتو شوی دی.

(وطنه مور یې زمونږ!) د ترانو غورچاڼ که څه هم د بناغلي امله وال د ذهن محصول نه دی؛ مګر د د مینې او هڅې برکت یې دی، چې د هېواد معاصرو افغاني شاعرانو په زړه پورې ترانې او شعرونه یې په یوه ټولګه کې راغونډ کړي.
که څه هم د بناغلي امله وال مورنۍ ژبه پشه یې ده؛ خو پښتو سره د یې کچې مینې له مخې ورته د دې هڅې مبارکي وایم او راتلونکي یې روښانه غواړم.
په پای کې د ګودر کتاب خپرنځي ټولنې له مسوولینو هم مننه کوم، چې تل یې خواتان لیکوالی ته هڅولي او په دې برخه کې یې په معنوي پانګه نازولي دي.

په درنښت

جمشید ملکزی

کلید راډیو

آریان پښتو کتابتون
2022
ARYAN PASHTO LIBRARY

# ډالۍ

د سترګو نظر ګرانقدره پلارجان
او د زړه ستنې خوږې مورجانې ته،
چې زه یې تل د دعاوو تر سیورې لاندې ژوند کوم.
او هغه چاته، چې زه یې مینه او احسان په ټول ژوند
کې نه هېرولی او نه پوره کولی شم؛ هو
زما مشر ورور استاد سلطان عزیز عزیز ته:
امله وال

دا کتاب (وطــنه مــور یې زمونږ ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو وروڼو او خویندو ته دي ډالۍ وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ ...!

دا راز له خپلو ټولو هغو ملګرو او په خاصه توګه د سلیمان تاج او نصرت الله نصرت مینې او همکارۍ هم مننه کوم، چې له ما سره یې د ترانو په راټولولو کې مرسته وکړه.
د ګودر کتاب خپرنځي د ډېرو چارو سمبالوونکي زاهدالله جانان ته دې الله تعالی نور همت هم ورکړي، چې د پښتو او پښتنو لپاره د کتاب خپرولو فرهنګ دودوي.
په پای کې د زړه له رانېږدې ملګري، همزولي او د ګودر کتاب خپرنځي مشر صادق الله صادق د مینې او احسان پوروړی یم، چې زه یې د دې کتاب د ترتیب کولو لپاره بیا بیا وهڅولم او د دې جوګه یې کړم، چې د یو کتاب څښتن شم.

نور نو تاسې او د وطنه مور یې زمونږ!

په مینه او مننه

ستاسې کشر

شوکت امله وال

کلید راډیو – جلالکوټ

راځئ ملګرو زموږ په دې شاته پاته ټولنه کې ،
کتاب لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل
آزاد ، ارام او سوکاله ژوند ولري .!

په درنښت ا آریان پښتو کتابتون

# وطنه مور یې زمونږ!

هر انسان خپلو ارمانونو ته د رسېدلو لپاره ډېرې هڅې کوي، څوک ورته رسېږي او څوک بیا همداسې ارماني لاړ شي.
زما ژړګی هم د ارمانونو کور دی، یو ارمان مې دا و، چې باید داسې یو کتاب خپلو دوستانو او د پښتو ژبې مینه والو ته وړاندې کړم، چې هغوی یې پر لوستو پښېمانه او زړه تنګي نه شي....

"وطنه مور یې زمونږ!"

نور نه پوهېږم؛ خو داسې څوک به نه وي، چې هغه دې له خپل وطن، هېواد او ملت سره مینه ونه لري، آن په خینو دیني کتابونو کې داسې هم راغلي، چې:(حب الوطن من الایمان) یانې له وطن سره مینه لرل د ایمان یوه برخه ده.
د اسلامي خلافت دویم ستر خلیفه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خسر عمر فاروق بن الخطاب رضی الله عنه وایي:"د وطن مینه ښارونه ابادوي."
زما هم له ګران او خوږ وطن افغانستان سره د حده زیاته مینه ده او همدې مینې دېته وهڅولم، چې د وطن تنکیو زلمیانو او خوانانو لپاره د (وطنه مور یې زمونږ!) په نوم د ترانو غورچاڼ یو برابر کړم او ترتاسې یې دوررسوم، ترڅو تاسې هم پرې خپله وطني او شعري تنده خړوبه کړئ.
خبرې نه اوږدوم، د وطن مینه په دې کتابګوټي کې نه رانغاړل کېږي، خو تاسې یې (شنه پاڼه د درویش پاڼه) ډالۍ په توګه ومنئ.
له مشر ملګري او تکړه ژورنالیست جمشېد ملکزي څخه نړۍ مننه کوم، چې زما دا کتاب یې له سره وکوت او یو څو کرښې یې پرې نورې کړې.

# وطنه مور يې زمونږ

پير محمد کاروان

سترگې او زړه مو ته يې
د ژوند اوبه مو ته يې
شکر نعمت يې زمونږ
چې شته يو شته مو ته يې
د مينې کور يې زمونږ
وطنه مور يې زمونږ

وطنه ستا د بدن
مونږه يو غړي غړي
ستا په ژوندون کې مو شتون
بې له تا مړي، مړي
ته مو خادر د لمانځه
د ډوډۍ شکور يې زمونږ
کور يې زمونږ
وطنه مور يې زمونږ



د گلابونو مور يې
يه! د غاټولو مور يې
خزان خو چرې مه شې
زمونږ د ټولو مور يې
ستا د دردونو کاروان
ټکور ټکور يې زمونږ
کور يې زمونږ
وطنه مور يې زمونږ

سترگې او زړه مو ته يې
د ژوند اوبه مو ته يې
شکر نعمت يې زمونږ
چې شته يو شته مو ته يې
د مينې کور يې زمونږ
وطنه مور يې زمونږ

آریان پښتو کتابتون

# ښه زده کوونکی

**محمد عثمان نژند**

د مکتب ښه شاګردان یو        د هېواد ښکلي ګلان یو
په شوق وایو خپل درسونه        مورږ د پوهې مینان یو

مدام پام په کتابو کړو        د کتاب طرفداران یو
د لویانو کړو نمانځه        د عالي خوی خاوندان یو

رښتیا وایو، رښتیا اورو        په رښتیا پسې روان یو
مهال وېش سره سم درومو        همېشه وخت شناسان یو

ازمویني نه څنګ نه کړو        ښه ډاډه په امتحان یو
هیڅ وخت چاسره جنګ نکړو        یو د بل انډیوالان یو

د نژند یو مورږ ملګري
مینه ناک د خپل عرفان یو



# د وطن ترانه

**استاد خیالي ګل باوري**

فخر کوم ستا په میړانه قهرمان وطنه
افغانستان وطنه

زمونږه پت یې ګرانه + د ژوند عزت ګرانه
شان او شوکت یې ګرانه + ښه محبت ګرانه
زه دې هر ځای کې صفت کړمه عالي شان وطنه
افغانستان وطنه

ښکلې درې لرې ته + یخې چینې لرې ته
ښې منظرې لرې ته+ هم فوارې لرې ته
نوم دې خپور شوی، هرې خواته په جهان وطنه
افغانستان وطنه

د هسکو غرو دې قربان + د شنه زمرو دې قربان
دنګو برجو دې قربان + هم د دښتو دې قربان
دښمنان مات کړه، تا د خېر مې پهلوان وطنه

افغانستان وطنه

دا ستا خدمت به کړو تل + په صداقت به کـړو تـل
عظمو همت به کړو تل + ښه شجاعت بـه کـړو تـل
تـــه د نیکونـــو میراثـــه یـــې قـــدردان وطنـــه
افغانستان وطنه

مـونږ دې اباد غـواړو + همـېش دې ښـاد غـواړو
خپـــل اتحـــاد غـــواړو + غلـــیم برباد غـــواړو
له تـا بـه وشـړو هـر خـای کـې بـدخواهان وطنـه
افغانستان وطنه

د ننګیـــالو کـــور یـــې+ د توریـــالو کـــور یـــې
د شـاه زلمـو کـور یـې + د مېړنـو کـور یـې
بـاوري وایـي تـا بـه سـاتو لـه خـزان وطنـه
افغانستان وطنه



t.me/AryanPashtoLibrary

## وطن وایي

نصرالله حافظ

زمـا د ابـادی لپـاره پورتـه شـئ اوچـت شـئ
ملا وتړئ زلمو

لاسونه سره ورکړئ، ټول په مینـه یـو قـوت شـئ
ملا وتړئ زلمو

زمـا پـه هـره ګټـه کـې د سرو زرو قیمـت شـته
په قدر یې که پوه شئ
زما د اوبو څاڅکي کې د عصر لـوی طاقـت شـته
په قدر یې که پوه شئ

آریان پښتو کتابتون

زما په دوره خاوره کې اکسیر غوندې حکمت شته
په قدر یې که پوه شې
د پوهې رڼا واخلئ، چې ښه پوه په حقیقت شئ
ملا وتړئ زلمو

زما د غرونو ګېډې د لالونو خزانې دي
که دي ستاسو لپاره
د جګو غرونو څوکې مې د عزم نښانې دي
که دي ستاسو لپاره
هر ناو، هره دره مې د ننګونو افسانې دي
که دي ستاسو لپاره
نور مه کېنئ راپاڅي یو مټ او یو غیرت شئ
ملا وتړئ زلمو

زما په هر یو بوټي کې دارو شته د رنځونو
صحت به ستاسې ښه کړي
زما اغزي ښه وګڼئ، د نورو له ګلونو
صحت به ستاسې ښه کړي
زما خوږې مېوې مو که روزي شي د بڼونو
صحت به ستاسې ښه کړي
نصیب پسې به څو ګرځئ، په خپله خپل قسمت شئ
ملا وتړئ زلمو



زما روښانه لمر، خوږې اوبه، ښکلې هوا ده
که پوه شوې، ښکلی ژوند دی
فضا د ازادۍ ده، څه عجبه شان دنیا ده
که پوه شوې، ښکلی ژوند دی
سودا راسره نشته او که وي دغه سودا ده
که پوه شوې، ښکلی ژوند دی
روان په سمه لاره د ورورئ او د وحدت شئ
ملا وتړئ زلمو

زما د ابادۍ لپاره پورته شئ اوچت شئ
ملا وتړئ زلمو

لاسونه سره ورکړئ، ټول په مینه یو قوت شئ
ملا وتړئ زلمو

# ترانه

زاهد افغان

په علم او هنر باندې روښان به دې ساتو
وطنه تل اوچت نام او نشان به دې ساتو
ساتو دې له خزانه
سیلی او له طوفانه
په سرو ګلو سمسوره ګلستان به دې ساتو
وطنه تل اوچت نام او نشان به دې ساتو
کړو ورک به ظالمان
له تانه دښمنان
د شر او له فساده په امان به دې ساتو
وطنه تل اوچت نام او نشان به دې ساتو
په تا کې شته لعلونه
د سرو زرو کانونه
شمشاد نه تر پامیره بدخشان به دې ساتو
وطنه تل اوچت نام او نشان به دې ساتو



زمونږ د زړه ټکور يې
د دواړو سترګو تور يې
په زړونو کې مدام لکه جانان به دې ساتو
وطنه تل اوچت نام او نشان به دې ساتو
غښتلي دې پوخونه
پر تا وياړي قومونه
ملي بیرغ خلانده په جهان به دې ساتو
وطنه تل اوچت نام او نشان به دې ساتو
لري ښکلي پوهان
پیاوړي شاعران
زاهد وايي په مینه هر افغان به دې ساتو
وطنه تل اوچت نام او نشان به دې ساتو

# ترانه

**زاهد افغان**

د شملې نه دې قربان شم، د جامې نه دې قربان شم
ای زما افغانستانه! د نامې نه دې قربان شم

ستا په خاورې کې عزت دی
ستا په خاورې کې راحت دی
ای زما جنت نشانه د وږمې نه دې قربان شم
(تکرار)

تانه جوړ زما بدن دی
تانه جوړ زما کفن دی
دا په سر چې مې رپیږي دې جنډې نه دې قربان شم
(تکرار)

آریان پښتو کتابتون



سرحدونه دې خارمه
دشتې غرونه دې ساتمه
د اسیا د زړګي سره د نقشې نه دې قربان شم
(تکرار)

وطن وستایه جانانه
ای ملنګ زاهد افغانه
د وطن په حال غمګینه ترانې نه دې قربان شم
ای زما افغانستانه د نامې نه دې قربان شم

د شملې نه دې قربان شم، د جامې نه دې قربان شم
اي زما افغانستانه! د نامې نه دې قربان شم

## ملي ترانه

**حمید حمیدي**

میراث مو د نیکو یې، د پېړیو قهرمانه
زما افغانستانه
روزلي دې په غېږ کې خپل بچي دې په مېړانه
زما افغانستانه
ستا دنګو دنګو غرو کې- په دشتو او مېرو کې
ښکلا د طبعیت او لوی عزمت شته له پخوا نه
زما افغانستانه
محمود دی که شېرشاه دی- امان که احمد شاه دی
تاریخ دې رنګین کړی ملالۍ او میرویس خانه
زما افغانستانه
روس ته هم انګریز ته- مغل ته هم چنګیز ته
معلومه مې ده توره له ایران تر هندوستانه
زما افغانستانه
راځئ! چې اتحاد کړو- دا خپل وطن اباد کړو
حمید وایي وطنه خدای دې تل لره ودانه
زما افغانستانه



## د پوهنې ترانه

**پوهنوال محمد ابراهیم همکار**

مونږه شاګردان د علم نور په ټول جهان غواړو
شمع د عرفان غواړو
مونږ بلې ډیوې یوو له ظلمت سره جګړه کوو
مونږه د دوستۍ وړي له بدۍ سره لانجه کوو
مونږ په ټول ژوندون کې طریقه د پاک قران غواړو
شمع د عرفان غواړو
ای استاده لمر یې مونږه ستوري بختور یوو
ستا په رڼایۍ باندې ځلانده منور یوو
مونږه د لارې خنډ د هر ظالم او زورور یوو
ستا په لارښوونو لارې چارې د اسمان غواړو
شمع د عرفان غواړو
مونږ د اسلامي نظام د شمعې پتنګان یوو
مونږ د خدای لپاره پدې شمعې تېر له خان یوو
تندر یوو طوفان ولاړ غلیم ته په میدان یوو
مونږه یوو ملګري د همکار د خیر سبحان غواړو
شمع د عرفان غواړو

## د معلم مقام

### استاد خیالي ګل باوري

معلمه ستا ښکلی روزګار منمه
چې مونږ په ویاړو همغه افتخار منمه

لکه د شمع ته سوزېږي، خو رڼا کوي تل
په دې رڼا دې مستقیمه سمه لار منمه

هم د ړندو د لاس محصایي ګوره
منزل مقصود ته رسېدل دې ښکلی کار منمه

په شپو او ورځو د زړه وینې خوري ته
الله درکړی لوی مقام هم د ستا زیار منمه

معصوم بچو ته چې تعلیم ورکوي
اجر یې ډېر دی، دغه لار کې ستا ایثار منمه

ته چې پالنه او روزنه د بچو کړې زمونږ
دې تربیت کې تا د سرو ګلو مالیار منمه



تعمیر بنیاد دی، راته جوړ کړو ښکلی
زه په رښتیني جوړوونکي تا معمار منمه

د وچو شوندو نه دې زار شمه زه
ته لارښوونکی زه په مینه ستا دیدار منمه

چې نن فضا کې خلک ګرځي دی دا ستا برکت
په کتابونو کې لیکل شوی ستا کردار منمه

که دې هر شومره صفت وکړمه بیا هم کمېږي
ته مربع یې هم تا له قام سره همکار منمه

ته مونږ ته درس د وروررلی راکوې
په غوړو اورمه په زړه دا ستا ګفتار منمه

ته جرس د قافیلو یې انګازې کوې تل
باوري وایي معلمه ستا ښکلی شعار منمه

# ترانه

**حضرت خیوه وال**

څومره سادګي چې لرم همه دومره غرور لرم
سر به د وطن نه ځار کړم دا عزم ضرور لرم

خدای دې ما محتاج نکړي د بل قانون او ژبې ته
خپل لرم قانون اسلام، خپل فرهنګ کلتور لرم

حال یې د فرعون شي چې څوک کبر په ما کوي
مست شم سمندر غوندې شور لرم سرور لرم

نه غوارم خاني او نوابي د بل د لاس لاندې
خوښ یمه ازاد په ملنګی کې دا دستور لرم

نه مې پرېږدي خپل ژوند ته پخپل کور کې دا نور خلک
وایي خیوه وال حضرت چې کوم ګناه قصور لرم؟



# ګرانه وطنه

**ګل پاچا الفت**

ګرانه وطنه! څومره زیبا یې
جنت د ځمکې زړه د دنیا یې

ښاغلی تاج ته د ایشیا یې
واړه د ستایلو ته په رښتیا یې

لعل او ګوهر شته ستا بدخشان کې
تمدن خور شو ستا په جهان کې

ننګیالي تا دي هر وخت روزلي
ښه ښه ځوانان دي تا زېږولي

کارنامې ستا دي تاریخ ساتلي
ستا فرزندان دي څومره غښتلي

زمریان پراته دي ستا په لمن کې
تل پسرلي وي ستا په چمن کې

د وطن ورونو شئ بیا راپورته
دښمن پرې نه ږدئ خپل کلي او کور ته

د توري غږ مو تللې هر لور ته
څوک ټینګیدی شي زمونږ زور ته؟

موږ دي مات کړي قوتونه
موږ لاندې کړي ډېر هېوادونه

ښاغلی نسل د اریـن یو
یو مو مذهب دی د یو وطن یوو

فخر مو یو دی لکه یو تن یوو
مین په هر ګل د خپل چمن یوو

شاه او وطن نه ټول قربانېږو
څای د غیرت دی کله درېږو؟



# ترانه

**ګل پاچا الفت**

وطن دی کور زموږ- د سترګو تور زموږ
اوبه یې دي شیدې لکه د خپلې مور زموږ
وطن دی کور زموږ

د وطن خاورې دي - زر ترې پیدا کېږي ثمر
دی نمک خور د دې وطن -پلار دی که مور زموږ
وطن دی کور زموږ

که یې اباد نه کړو- خپل ځان به ښاد نه کړو
د دې کاله ده خرابې یو لوی پېغور زموږ
وطن دی کور زموږ

په کارروزګار د هر چا جوړېږي ښکلی دنیا
د وطن سترګې منتظرې دي په لور زموږ
وطن دی کور زموږ

راشئ چې وکړو خدمت په ځان قبول کړو زحمت
کوي خدمت د خپل وطن ګاونډیان نور زموږ
وطن دی کور زموږ

راکوي مور ته وطن هر څه چې غواړي بدن
آب ودانه ده د وطن قوت او زور زمونږ
وطن دی کور زمونږ

په مور حقونه لري- هر راز پورونه لري
باید چې دا حق کړي ادا ورور وي که خور زمونږ
وطن دی کور زمونږ

وطن محبوب دی زمونږ- وطن مطلوب دی زمونږ
که يې ونه ساتو له نورو مخ دی تور زمونږ
وطن دي کور زمونږ

په دې هوا لويږو- په دې مينا مستيږو
خدای دې مدام لري دا باغ و بڼ سمسور زمونږ
وطن دي کور زمونږ



## ای د معارف بچو!

**محمدگلاب توحید یار**

رب مو تل کامیاب لره سپیڅلي مرام کې
ای د معارف بچو دې بلند مقام کې

دا هیله ارزو زمونږ
تمه توقع زمونږ
وران وطن ودان غواړو
دا ده پرې پېرزو زمونږ
سیال چې د سیالانو شي، د صلحې په انجام کې
ای د معارف بچو دې بلند مقام کې

کلی کور مې پرېښودل
پلار او مور مې پرېښودل
راغلو د تعلیم په نوم
هرڅه مو نور پرېښودل
نن مو که غفلت وکړو، ګېر به شئ په دام کې
ای د معارف بچو دې بلند مقام کې

واورئ ای تنکو زلمو
ښکليو نوکو زلمو
خپل وطن مو کار غواړي
وا درنو، درنو زلمو
بل څوک خدمت نه کوي، مور ته په دې قام کې
ای د معارف بچو دې بلند مقام کې

یوو سترګې په لار درته
کړو به انتظار درته
ګورئ بې پروا نه شئ
وايي توحيد يار درته
دا مې نصيحت واورئ، د شعر په دې کلام کې
ای د معارف بچو دې بلند مقام کې

رب مو تل کامياب لره سپيڅلي مرام کې
ای د معارف بچو دې بلند مقام کې



## قدردان معلمه

**محمدګلاب توحيديار**

ای قدردان معلمه- په مونږه ګران معلمه
تا کړو په علم رڼا- دا ټول جهان معلمه

ته يې رڼا د وطن- ښايسته ښکلا د وطن
علم دې خور کړلو تا- په هره خوا د وطن
تا په هر ځای وکرل ښايسته ګلان معلمه
تا کړو په علم رڼا دا ټول جهان معلمه

ای نازنين استاده- د ښکلي دين استاده
الله درکړي درته- عزم متين استاده
د پيغمبر د قانون يې ترجمان معلمه
تا کړو په علم رڼا، دا ټول جهان معلمه

ستا د اخلاص نتيجه- د لوړ احساس نتيجه
چې سور لښکر شو ناکام- دا يې وه خاص نتيجه

تــا مجاهــد وروزل خپــل شــاگردان معلمــه
تــا کــړو پــه علــم رنــا دا ټــول جهــان معلمــه

تــا کــړو ازاد رهــبره- دا خپــل هېــواد رهــبره
تــا تربيــه کــړه غازيــان- ای د جهــاد رهــبره
رب دې سرلــوړی لــره پــه ټــول جهــان معلمــه
تــا کــړو پــه علــم رنــا دا ټــول جهــان معلمــه

څه لوی خــدمت دې وکــړ- ولــس دې وېښ کــړو
گرانــــــــه ، دا شــــــجاعت دې وکــــــــړو
توحيــد يــار وايــې شــمه لــه تــا قربــان معلمــه
تــا کــړو پــه علــم رنــا دا ټــول جهــان معلمــه



## د معارف ترانه

**گل پاچا الفت**

د جهــل دوره تېــره شــوه دا عصــر د عرفــان دی
بې علمه ژوندون گران دی
په حق پسې روان يو
د علــــم پتــــنگان يو
د جهل دښمــــنان يو
لښکر د معــارف يــوو لــوړ زمــوږ نــام او نشــان دی
بې علمه ژوندون گران دی
په زدکړه او ښوونه
د حق کوو پــالنــه
د خپل وطن روزنه
زمونږ گرانه وطنــه دا مــو عهــد دا مــو پــيمان دی
بې علمه ژوندون گران دی
د عــلـم په زانگو کې
د عقل په کوڅو کې
په غېږه د پښتو کــې
لوی شوي يوو موږ واړه خپل وطن راباندې گران دی
بې علمه ژوندون گران دی

# ترانه

**ګل پاچا الفت**

د یو وطـــن اولاد یـوو
تېر له سره په هېـواد یـوو
د افغـــان پـه نامه پایـو
بختور یوو، چې ازاد یوو
دا وطن دی په موږ ګران
دا وطن دی د افـغـــان
پـه یـــوه نامه یادېـــږو
پـــه یـــوه بیرغ ټولېـــږو
یو له بلـــه نـه بېلېـــږو
په یوه وطن خـــارېـــږو
ټول منو د خدای فرمان
دا مـــو عهد دا مو پیمان
ازادي زمـــونـــږ لیلا ده
ازادي پـــه مـــوږ شـیـدا ده
راسره لـــویـــه ســـودا ده
په لوی خدای زموږ ویسا ده
ساتو خپل شرف او شان
د وطـــن نـــام او نښان



# ترانه

**حضرت خېوه وال**

دا زمونږ مرام دی، چې کوشش به روز و شب کوو
د علـم بـه طلـب کـوو، د علـم بـه طلـب کـوو

زړه کې محبت لـــرو
شوق د علمیت لـــرو
ورکـه ناپوهي دې شي
دا ارزو هروخت لـــرو
مـونږ خپلـو مشرـانو نـه غوښـتنه د مکتـب کـوو
(تکرار)

مونږ کتاب قلم غواړو
پوهه چم په چم غواړو
ورک دې شي ټوپک او جنګ
ژوند ازاد رقم غواړو
مونږ خپلو منځو کې به د يو او بل ادب کوو
(تکرار)

مونږ نجونې هلکان
ټول مکتب ته شو روان
وايي خېوه وال حضرت
دا زمونږه دی ارمان
لږ علم چې وکړو ډېر کارونه د مطلب کوو
(تکرار)



## شعر

**حضرت خيوه وال**

د نن ورځې ماشومان يوو
د سبا ورځې ځوانان يوو
دا وطن زمونږه مور ده
مونږ د دې وطن بچيان يوو
خپل ځانونه به قربان کړو
دا وطن به مورږ ګلزار کړو
د اينده نسل دپاره
به ښايسته پاتې يادګار کړو
به ښايسته پاتې يادګار کړو
د معارف مورږ شاګردان يوو
د معارف مورږ شاګردان يوو
(تکرار)

مونږه غواړو کتابونه
کتابچې او قلمونه
تباشير او تختې غواړو
هم معارف نه خدمتونه
هم معارف نه خدمتونه

مورږ د علم پتنګان يوو
مونږ د علم پتنګان يوو
(تکرار)

دا معلم زموږ همکار دی
هم استاد دی هم مو پلار دی
سمه لاره ښايي موږ ته
بس زمونږه خدمتګار دی
بس زمونږه خدمتګار دی

مونږ د دغه بڼ ګلان يوو
موږ د دغه بڼ ګلان يوو
(تکرار)

ښه روښان نوم د مکتب دی
ځای د علم او ادب دی
د حضرت خپوه وال شعر کې
پروت پوره مطلب دی
پروت پوره مطلب دی

ټول پوه شوي په ښه شان يوو
ټول پوه شوي په ښه شان يوو
(تکرار)



# افغانستانه

**ادریس دلیل**

زمونږ زړه او زمونږ ځان افغانستانه
غواړو خدای نه دې ودان افغانستانه

ستا خیرخوا او ستا غمخوار دې تل ژوندی وي
شه تباه دې دښمنان افغانستانه

شه ګلزار دې دغه دښتې او دا غرونه
پرې راټول شه شنه طوطیان افغانستانه

د جنګونو تغر ټول دې شه له خاورې
شه دې سوله کې ګذران افغانستانه

دا زمونږه د تن غوښې د تن وینه
درنه ځار درنه قربان افغانستانه

زه ادریس دلیل دې ښاد او اباد غواړم
دا مې زړه کې دی ارمان افغانستانه

## د پوهنې ډیوه

**ادریس دلیل**

ځومره ښایسته ده د پوهنې ډیوه
جلوه، جلوه ده د پوهنې ډیوه

لرې کوي تورې تیارې د جهل
داسې وسله ده د پوهنې ډیوه

اخلي ترې ګټه پتنګان د علم
ښکلې دیوه ده د پوهنې ډیوه

تل یې روښان دي سباوون د ژوندون
چې چا سره ده د پوهنې ډیوه

منم چې تولې بدمرغۍ دي هلته
چرته چې مړه ده د پوهنې ډیوه



## ترانه

**امر الله امید**

مونږه سوله غواړو مونږ د سولې په ارمان یوو
مونږ مسلمانان یوو
مونږه ورور ولي غواړو
ښکلې ازادي غواړو
دا وطن مو خپل دی مونږ د دې وطن بچیان یوو
مونږ مسلمانان یوو

وران وطن ودان به کړو
جوړ افغانستان به کړو
چا چې ظلم وکړو، مونږ د دې خلکو باغیان یوو
مونږ مسلمانان یوو

دا مو د نیکو وطن
دا مو د پښتو وطن
دا زمونږه شمع مونږ یې واړه پتنګان یوو
مونږ مسلمانان یوو

شکر زمونږ خپل وطن
دی لکه د ګل وطن
وایي امرالله امید خدمت ته یې عیان یوو
مونږ مسلمانان یوو



# وطنه

**همایون محصور**

جوړ له ښکلا جنت نشان وطنه
زړه د اسیا افغانستان وطنه

ډک له لعلونو خزانو هیواده
په تا کې شته در او مرجان وطنه

تا کې خاپوړې غزنوي کړې دي
د احمد شاه او میرویس خان وطنه

خدای خو دې نه کړي چې تا وران وګورم
غواړم له ربه دې ودان وطنه

تا سره زړه نه محبت ساتمه
دا زه محصور جانان، جانان وطنه

# زما افغان وطنه

**خاروان**

**ستا په سپېڅلي محبت باندې بـه زه شـمه قربـان وطنـه**
**زما افغان وطنه**
**یو موټی خاوره به دې ورنه کړمه، زه په ټول جهان وطنه**
**زما افغان وطنه**

**پېغلې له زړه درته دعا کړې**
**ځـوانان زاړه درته دعا کړي**
**ټـول پښتانه درته دعا کړي**
**د مقـام سـتوری دې اوچـت شـه تـر اسـمان وطنـه**
**زما افغان وطنه**

**تـا شا زلمي بچي روزلي**
**ښه ننـګيالي بچي روزلي**
**تـــا افغاني بچي روزلي**
**لکـه د مـور پـه شـان پـه هرچـا بانـدې ګـران وطنـه**
**زما افغان وطنه**

**هـــر ولايـــت يې لالـــه زار دی**
**زمـــونږ لـپـــاره افـتـخـــار دی**
**ګــران په خاروان هـر وطندار دی**
**پـه تـا ويـاړېږو تـه زمـونږ لـوړ يـې نښـان وطنـه**
**ای د افغان وطنه**



# افغانستان

**خاروان**

**مینـــه د وطـــن لـــرو، ښایســـته افغانســـتان دی**
**تل به پـرې نـازېږم دا وطـن رابانـدې ګـران دی**

**کانـــي يـــې لالونـــه دي**
**څه ښایسته یې غرونـه دي**
**دا د اولـــيـــاوو کـــــور**
**ښـــکلـي يې زيارتونـه دي**
**مسته يـې هـوا ده، دا وطـن جنـت نشان زمـونږ**
**تل به پـرې نـازېږم دا وطـن رابانـدې ګـران دی**

دا غیـــرتي خـــاوره ده
ښکلې ایـــمانـــداره ده
مونږه یې روزلــــي یوو
دا زمونږ مور پـــلاره ده
مـــونږ بـــه افتخـــار کـــوو ګـــډ کـــور د افغـــان دی
تل به پـرې نــازېږم دا وطــن رابانــدې ګـران دی

مـیـنـــه د هېواد لـرو
مست بیـرغ رپاند لرو
ګوره د اسیـا زړه کـې
دا وطـــــن ازاد لـــرو
مونږ ملي وحدت غواړو بېلــوالي کــې تــاوان دی
تـــل بـــه پـــرې نـــازېږم دا وطـــن ګـــران دی



# د معارف ترانه

**سلطان محمود سالمزی**

کامراني مو اتلانو مبـــارک شه
د معارف د بڼ ګلانو مبارک شه

دلته سپین وي او کـه تـور وي زمـونږ ورور دی
دا وطـــن زمـــونږ د ټولـــو شریـــک کـــور دی
زورېـــدلـــو بلبلانو مبارک شه
د معارف د بن ګلانو مبارک شه

راځئ وکړو اتحاد سره يو لاس شو
د يوه بدن اعضاء يوو چې يو لاس شو
تمنا مو ده خوانانو مبارک شه
د معارف د بڼ ګلانو مبارک شه

دا کنډر کنډر هېواد ابادي غواړي
د پرديو له پنجو ازادي غواړي
د پامير د سر بازانو مبارک شه
د معارف د بڼ ګلانو مبارک شه

رابنکاره تورو تيارو کې لکه لمر شئ
د غفلت پردو کړيو نه بهر شئ
سالمزی وايي باتورانو مبارک شه
د معارف د بڼ ګلانو مبارک شه



## ښايسته افغانستانه

**حميد هجران**

ښايسته افغانستانه ، ښايسته افغانستانه
مثال دې نشته درست جهان کې ګلستانه
ښايسته افغانستانه

ونې او بوټې دې کېميا دي
رښتيا د هر مرض دوا دي
ولاړ ځوانان دې په وفا دي
له مور او پلار ځخه په موږ يې ډېره ګرانه
ښايسته افغانستانه
لښرې ډېر لوړ او اوچت غرونه
تا کې روان دي پاک سيندونه
خاوره دې هم لري لالونه
دا وچې دښتې دې هم ډکې له مرجانه
ښايسته افغانستانه

ټول دښمنان کړي درنه وېره
چې دلته راشي لار کړي هېره
لرې رښتیا نه حیا ډېره
د ننګ شمله شه دې اوچت په هر میدانه
ښایسته افغانستانه

ګرخي همېش درکې غازیان
د دین د شمې پتنګان
ساتي به ښه دغه خوانان
زموږ ما او سر درنه قربان دی خراسانه
ښایسته افغانستانه

وطنه ته زمونږه مور یې
د یو بندي د سترګو تور یې
د هر افغان د زړه ټکور یې
داسې شعر لیکه همېشه حمید هجرانه
ښایسته افغانستانه



# ملي ترانه

**شعیب جان**

د سر په وینو به دې ساتو په مېړانه
قربان افغانستانه
د پاریس ښار لوګی لوګی شه هم له تانه
قربان افغانستانه
ښایسته کابل ښایسته مزار دی
جلا ل اباد ګل و ګلزار دی
ښکلې درې او منظرې لرې لغمانه
قربان افغانستانه
هر یو بچی دې قهرمان دی
هر یو بچي دې میرویس خان دی
بیرغ دې جیګ دی په هرخای کې تر اسمانه
قربان افغانستانه
دغه پکتیا دې شملور دی
دا کندهار مې د زړه سر دی
جوره به لاړ شو بیا پغمان ته شعیب جانه
قربان افغانستانه

# د معارف ترانه

**امین دوست**

معارف زمونږ عزت - معارف مو شرافت
معارف دی رهنما- زمونږه دی پېشوا

معارف زمونږ نشان- زینت د هر انسان
معارف دی ډېر زیبا- زمونږه دي پېشوا

معارف رڼا رڼا- ښایست دی د دنیا
د روح مو دی غذا- زمونږه دی پېشوا

معارف زمونږه تن- ښایسته مو پرې ګلشن
ښایست د هرې خوا- زمونږه دی پېشوا

معارف کوي خدمت- د ټول وطن زینت
په ټول جهان بالا- زمونږه دی پېشوا

معارف لري مقام- په ټولو احترام
د امین دوست ده دا وینا- زمونږه دي پېشوا



# ای زما وطنه!

**غني خان**

ای زما وطنه! د لالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي د تورو نبانې زما

سترګې مې لوګی شه ستا د خاورو د کورونو نه
عقل مې ایرې شه ستا دپاره د فکرونو نه
ځار شمه ، قربان شم ستا د غرونو د سیندونو نه

ستا هره دره کې دي د تورو نبانې زما
ای زما وطنه! د لالونو خزانې زما

زه یم ستا د خاورو ته زما د مینې جوړ یې
ته مې د غیرت او د پښتو رنګینې جوړ یې
ته مې د نیکه او د بابا د وینې جوړ یې

ستا زړه کې پرتې دي ټولې تلې زمانې زما
ای زما وطنه! د لالونو خزانې زما

ستا عزت چې نه وي، زه به نوم او عزت څه کړمـه
ته چې خوار وزار يې زه به خوب او راحت څـه کړمه
ستا سر چې وي ټيټ نو زه به شان او شوکت څه کړمه

مسته بـه دې خـاوره کـړم پـه وينـې مسـتانې زمـا
ای زمـــا وطنـــه! د لالونـــو خزانـــې زمـــا

يـــا بـــه دې زه ســـيال کړمـــه وطنـــه د جهـــان
يا به ستا په ښنو کـې تـورې خـاورې کړمـه ځـان
زه بـه دړې وړې شـم خـو تـا بـه کـړم ودان

نر يمـه، پښـتون يـم، تـا تـه يـادې افسـانې زمـا
ای زمـــا وطنـــه! د لالونـــو خزانـــې زمـــا



# د بچو ترانه

**غني خان**

خوږ دی ما ته ملك زما - خـوږ تـر ګُـل جهـان
زه به ځم په جنګ د قام - زه چـې شـمه ځـوان

وينـــه ده تـــوده زمـــا رنګونـــو کـــې د ننـــګ
سر که مې قام غواړي زه به يې نه کړمه په ځنـګ
زور دې مـا ليـدلی هـم د تـوپ هـم د تفنـګ
زور مـې د غـيرت دی د همـه زورونـو خـان
زه به ځم په جنګ د قام - زه چـې شـمه ځـوان

سر څه د سپي سر وي چې فـدا نـه شي پـه قـام
نر څه ښـځونی وي چې شـيدا نـه شي پـه قـام
نوم ناموس يې څه وي چې يې نـوم وي د غـلام
دا نـوم بـه بـدل کـړم يـا بـه کـړم بـدل جهـان
زه به ځم په جنګ د قام - زه چـې شـمه ځـوان

زه پښتون بابا د خپلو وينو پيداکړی
زه پښتنې مور په غيرتي پيو لوی کړی
مور په پلار نيکه دي د مردی کارونه کړي
زه به غلام نه شم که غلام شي ټول جهان
زه به ځم په جنګ د قام - زه چې شمه ځوان

زه به په وجود يمه کوتلی وزير اس
کوم به د کاروان خبرداری لکه جرس
يم به د ظالم سترګو کې تل د سترګو خس
زه به لکه باز يم د نرتوب مرد ميدان
زه به ځم په جنګ د قام - زه چې شمه ځوان

زه به لوی زړګی لکه شېرشاه د بنګالي لرم
مټ به ابدالي لرم همت به روهيلي لرم
سر به ښکته نه کړم که زرګونه کشالي لرم
ربه ښکته مه کړې چاته سر، ته د افغان
زه به ځم په جنګ د قام - زه چې شمه ځوان



## ترانه

**محمد ګلاب توحيد يار**

له هرې خوا د سرو وحشيانو پرې غورځنګ دی
يا الله په ګران هېواد مې جنګ دی

جوړه وطن کې مې غوغا ده
هر ځای کې شور وير واوېلا ده
هر مسلمان ورور مې په سرو وينو کې رنګ دی
يا الله په ګران هېواد مې جنګ دی

ربه خوږېږو افغانان
ټول بې ګناه شو شهيدان
ګلابي رنګ د هر يو ښکلي مې بدرنګ دی
يا الله په ګران هېواد مې جنګ دی

شهـــيد جـانان راته يادېږي
زړگــی مې ډېر پسې خوږېږي
هغــه چــې وريــت پــه سرو لمبــو لــه پتنــگ دی
يــا الله پـــه گـــران هېـــواد مـــې جنـــگ دی

په مونږ تېرېږي دا وختونه
ټـول يو پر بل پسې غمونه
د توحيـد يـار زړگـی خپــه پرېشـانه تنـگ دی
يــا الله پـــه گـــران هېـــواد مـــې جنـــگ دی



## د غاټولو فصل

**فضل الدين سراجي**

ښکلی دی وطن زما، ښکلې يې هوا ده
زه يـې مجنون يمه دا مې ليلا ده
زه يـې مجنون يمه دا مې ليلا ده

هــره دره زر لــري ، هــم ښــكلی منظــر لري
پټ په سپينو واورو تل، تور غر او سپين غر لري
سمه يــې باغــونه دي غــرونه يــې نــښــتر لري
جــوړه د بــلــبلو پرې شور او نــوا ده
زه يــې مجــنون يمه دا مـــې ليلا ده

زه د ويـنــو گل يــمه تورو کنبې ټــوکـــېږمه
ســـتوری يـم خـلېږمه پرخـــه يــــم ورېږمه
شـاړو کنبې اوســـېږمه خير دی که سوځېږمه
فصل د غـاټول يمه کور مې سحرا ده
زه يــې مجـــنون يمه دا مې ليلا ده

سر به ترېنه زار کړمه، زړه نه دا اقـرار کړمه
وينه به مې ورکړمه ، دا بـه لالـه زار کـړمه
لوړ به د ميوند څلی ، هـم بالا حصار کـړمه
ما د قـرباني وعده کړې لا پخوا ده
زه يې مجنون يمه دا مـــې ليلا ده

سراجـي ټـپـونه ټـل ښه شـي د مرهم سره
ته له نـــورو پاته يـې مخـــکې شه قلم سره
هر خـــوا ګړنګونه دي خيال کوه قدم سره
دلته مخکې تلای نشې ګوره بې استاده
زه يـې مجـنون يمه دا مې لـــيلا ده



## افغانستان وايي

**پوهنوال محمد ابراهيم همکار**

پخپله مې اباد کـړئ پـرې مـه نـه ږدئ تـر پـردو
راځـــئ ګرانـــو بچـــو، راځـــئ ګرانـــو بچـــو

زه ستاسې شريک کـور يم
خواري وکړئ سمسور يـــم
لــه جنـګه سـتړی نور يم
د مينـــې لاس مـــو ورکـــړئ ای تـــاجکو پښـــتنو
راځـــئ ګرانـــو بچـــو، راځـــئ ګرانـــو بچـــو

مکتب په لـــور روان شئ
د عـــلـــم پتـــنګان شئ
کامياب په هر ميدان شئ
پخپله هرڅه جوړ کړئ احتياج مـه کـړئ د غـيرو
راځـــئ ګرانـــو بچـــو، راځـــئ ګرانـــو بچـــو

## ترانه

**غیرت اباسین**

وطنــــه زمـــا تنــــه، زمـــا روح زمـــا بدنـــه
د پـلار نیکـه پـه څېـر بـه دې ساتمه لـه دښـمنه
وطنــــه زمـــا تنــــه، وطنــــه زمـــا تنــــه
زمـا پلرنـۍ خـاورې تـه زمـا د سترګو تـور یـې
غیرت یم زېږولی، سر بـه جـار کـړم درنـه مـورې
وطنـه زمـا کـور یـې، وطنـه زمـا مـور یـې

له سرو زرو نه زیاتـه ده کـه تیـره ستا د غـر وي
قربان دې شم وطنـه درنـه جـار دې زمـا سر وي
که زه د ستا بچي یم سر او مال به له تـا جـار کـړم
دا بـه دې د سـیالو هېوادونـو پـه قطـار کـړم
خدمت ته دې ولاړ یم هم په سر او هـم پـه مـال
رسوم به دې په علمـو پـه تخنیـک او پـه کـمال
ګلـبڼ بـه درنـه جـړم کـم د ګلونـو ګلبدنـه
د پـلار نیکـه پـه څېـر بـه دې ساتمه لـه دښـمنه
وطنــــه زمـــا تنــــه، وطنــــه زمـــا تنــــه



د مشـــــر به عزت کړئ
په کشر شفــقــت کـــړئ
تل خوي د شرافت کړئ
هــــر وخــــت احــــترام کـــړئ د ورو او د زړو
راځـــئ ګرانــــو بچـــو، راځـــئ ګرانــــو بچـــو

را لوی مو ګران استاد کړي
پــه مینــه یـې اولاد کـړي
قـــوي لـکـــه پـولاد کړي
همکـــار وایـــي څـــارېږئ د اســـتاد لـــه قـــدمو
راځـــئ ګرانــــو بچـــو، راځـــئ ګرانــــو بچـــو

چې مست کړمه تاریخ دې کارنامې به زما ګورې
غیرت یم زېږولی سر به جار کړم درنه مورې
وطنه زما کور یې، وطنه زما مور یې
اوبه، خاوره، هوا دې جوړه شوې له غیرته
سر مشق د ازادۍ یې ته، سمبول د حریته
زما ډول و سینګار یې زما نوم زما عزته
ناموس زما د پلار یې زما کور د شرافته
ته کور د لوی افغان یې هېوادونو کې اوچته
ای لوی افغانستانه د دنیا په مخ جنته
زمونږ غرونه سیندونه شنې درې او شین چمنه
د پلار نیکه په خېر به دې ساتمه له دښمنه
وطنه زما تنه، وطنه زما تنه

امونه (اباسین) پورې د شنو زمریانو کور یې
غیرت یم زېږولی سر به جار کړم درنه مور ې
وطنه زما کور یې، وطنه زما مور یې
تکرار



# ترانه

**پیوستون محبت**

ته د بانګو باتورانو وطن
ته د سپېڅلو شهیدانو وطن
له تا قربان شم قدردان وطنه
زما ښایسته افغانستان وطنه

ته د غیرت او د پښتو وطن یې
د ننګیالیو او مېړنو وطن یې
سر مې دی ځار دا ستا له نومه زما
په تا به ویاړم هر زمان وطنه
زما ښایسته افغانستان وطنه

د شمله رو افغانانو کور یې
د ابدالي او غوریانو کور یې
د میوندۍ تاریخ به بیا ژوندی کړې
د ایوب خان غوندې غازیانو کور یې
ای زما روح زما ایمان وطنه
زما ښایسته افغانستان وطنه

ته د خوشحال او باچاخان مېنه يې
ته د شېرشا او اکبرخان مېنه يې
ته د تاريخ ځلانده ستوري لري
ته د امان او ميرويس خان مېنه يې
لوړ دی دا ستا نوم او نشان وطنه
زما ښايسته افغانستان وطنه

ډېر دي درانه دغه قومونه دا ستا
ډېر دي باننگه ولسونه دا ستا
وياړم په تا دره نوري محبت
څکه کومه صفتونه دا ستا
ماته يې ګران له خپله ځان وطنه
زما ښايسته افغانستان وطنه



# ترانه

**زاهد افغان**

د غيرو غمازانو پاکوم به دې وطنه
جنت په شانې ښکلی جوړوم به دې وطنه
د سولې امن کور يې
زما د زړه ټکور يې
بيرغ په ټول جهان کې رپوم به دې وطنه
جنت په شانې ښکلی جوړوم به دې وطنه
د شر او له فساده
ساتم به دې هېواده
غليم په نن سبا کې خغلوم به دې وطنه
جنت په شانې ښکلی جوړوم به دې وطنه
وطنه ته جانان يې
په ما له ځانه ګران يې
خدمت په سر او مال سره کوم به دې جانانه
جنت په شانې ښکلی جوړوم به دې وطنه

چې جوړ دې کړم ګلذار
هر خوا به شي بهـــار
په سرو ګلونو بيا سينګاروم به دې وطنه
جنت په شانې ښکلي جوړوم به دې وطنه
قربان شم ستا د غرو نه
د ښکلو سردرو نه
ستا خاورې او ډبرې ښکلوم به دې وطنه
جنت په شانې ښکلي جوړوم به دې وطنه
زاهد افغان شعرو کې
ستا يم دې ترانو کې
د لمر غونډې دنيا کې ځلوم به دې وطنه
جنت په شانې ښکلي جوړوم به دې وطنه



## ښوونکيه!

**سيد حبيب الله شريف يار**

سلام ګرانه ښوونيکه ستا عظمت ته مې سلام
ډېر وړ يې د ستايلو ستا صفت ته مې سلام

د ژوند له خوږو لرې زحمتو سره عادت يې
اخلاص باندې تل پاتې ستا عادت ته مې سلام
طوطيانو د وطن ته د خبرو چل ورزده کړې
الله دې اجر درکړي ستا زحمت ته مې سلام

تا خپل غمونه پرېښي تل د بل په غم کې ژاړې
ته يې پوره انسان ستا انسانيت ته مې سلام
نړۍ چې ده ودانه ټوله ستا له برکته
اغاز يې تر انجامه ستا نهضت ته مې سلام

وارث د پاک نبي يې په سپيڅلي لار روان يې
روښانه مستقبل يې ستا شوکت ته مې سلام

تل بوټــو د دې بــاغ تــه تــا د زړه وینــې ورکــړي
چې جوړ ښکلی ګلشن شي ستا فطرت ته مې سلام

دا تــه چــې پــرې روان یــې دغــه لار د رحمتونــو
ته وړ د ډېر عــزت یــې ســتا عــزت تــه مــې ســلام
تلـــه اوري ملغلـــرې د لالونـــو خزانـــه یـــې
مـنلي یـې ښـاغلیه سـتا شخصـیت تـه مـې سـلام

سر لــوړي بریــالی دې وې زمــا ګرانــه ښــوونکیه
تل وایئ شریف یار چې ستا قــوت تــه مــې ســلام



## افغانستان وطنه

**غ- فاروقي**

دا مې ارمــان دی، چــې دې وویــنم ودان وطنــه
چې نور جنګ نــوي شي د ســولې قهرمــان وطنــه
افغانستان وطنه

زما دې خوښــه ابــادي ده تــر خپــل خــان وطنــه
چې نور ښکار نشي ستا د جګــو غــرو بــازان وطنــه
افغانستان وطنه

ســتا ســوکالي مــې د کلــو کلــو ارمــان وطنــه
چې دې خــدمت لــره چمتــو شي افغانــان وطنــه
افغانستان وطنه

چـــې په محراب ممبر دې ښکلی وي نښان وطنه
ســتا پــر بــيرغ دي نمایــان وي دا نښــان وطنــه
افغانستان وطنه

د وياړه ډک تاريخ اوچت ستا تر اسمان وطنه
يو ځلې بيا شې په ځلانده لمر روښان وطنه
افغانستان وطنه

پوهه رنا ده په رڼا کې شې درمان وطنه
له تاريکيو وژغورل شې پر موږ ګران وطنه
افغانستان وطنه

داسې دې غواړم چې نامدار شې پر جهان وطنه
چې ته اول يې نور په تا پسې روان وطنه
افغانستان وطنه

په سر لوړی دې خوشالېږو د افغان وطنه
سر لوړی اوسې لکه وې چې هر زمان وطنه
افغانستان وطنه

داسې بهار اوسې چې نه دې وي خزان وطنه
چې شي فاروق د سوله ايز ژوند ترجمان وطنه
افغانستان وطنه



# د معارف ترانه

**ارماني**

مونږ د علم پتنګان يو
د رڼا په لور روان يو
شکر ټول مسلمانان يو
دی شعار زمونږ معارف، دی کردار زمونږ معارف
هر يو ګوټ د تاريکو ته- دی انوار زمونږ معارف

جهالت سره جهاد کړو
د ظلمت سره جهاد کړو
مونږ د مينې قاصدان يو
له نفرت سره جهاد کړو
دی شعار زمونږ معارف، دی کردار زمونږ معارف
هر يو ګوټ د تاريکوته- دی انوار زمونږ معارف

علم پوهه مو سينګار دی
نن زمونږ راغلی وار دی
بيا د هسک په لوري يون کړو
ګرندی زمونږ رفتار دی
دی شعار زمونږ معارف، دی کردار زمونږ معارف
هر يو ګوټ د تاريکو ته – دي انوار زمونږ معارف

ستړي شوي يو له جنګه
نور له دې ظالم فرهنګه
مونږ قلم په لاس کې واخيست
توبه ګار يو له تفنګه
دى شعار زمونږ معارف ، دى كردار زمونږ معارف
هر يو ګوټ د تاريكو ته- دي انوار زمونږ معارف

د وحدت ترانې وايو
د اخوت ترانې وايو
تور او سپين په مونږ کې نشته
د الفت ترانې وايو
دى شعار زمونږ معارف ، دى كردار زمونږ معارف هر
يو ګوټ د تاريكو ته- دي انوار زمونږ معارف

جوړونې د وطن ته
پرمختلنې د وطن ته
هر پرهر ته (ارماني) نن
درملنې د وطن ته
دى شعار زمونږ معارف ، دى كردار زمونږ معارف
هر يو ګوټ د تاريكو ته- دي انوار زمونږ معارف



## په پښتون گران وطنه!

**اروابناد ملنګ جان**

مونږه د څېرمې نه داستا يو خادمان وطنه
په پښتون گران وطنه

وطنه تاته مونږ په صدق اطمينان درکوو
تېغ د دښمن ته مخامخ غوښې د ځان درکوو
ستا په خدمت کې پښتانه دي فدايان وطنه
په پښتون گران وطنه

وطنه ته زموږ ډيوه مونږ پتنګان يو دا ستا
چپ او چاپېر درکې پراته جرا او قربان يو دا ستا
په هر ميدان به درله درکړو امتحان وطنه
په پښتون گران وطنه

وطنه ته زموږ لیلا مونږه مجنون یو دا ستا
صادق په عشق او په خدمت په هر مضمون یو دا ستا
زموږ محبوب پر مونږه ګران نور چشمان وطنه
په پښتون ګران وطنه

وطنه ستا هرې درې نه پښتون زر جوړوي
زمونږ غمخوار ناست په کابل تاته زېور جوړوي
اوسه خوشال ستا ننګیالي یو فرزندان وطنه
په پښتون ګران وطنه

وطنه ستا په خدمت خاورې به شم زه ملنګ جان
دا به مې بخت وي، چې په لار کې د وطن شم قربان
چې درته نه شم خجالت په ګورستان وطنه
په پښتون ګران وطنه



## اریانا افغانستان

**نصیب الله خوش نصیب**

له تانه ځار شمه زه په هزار وار شمه زه
ته مې لیلا یې زه مجنون په تا نازېږمه
له تا ځارېږمه
ای اریانا افغانستانه

ستا ښایستونو نه ځار
اوبو سیندونو نه ځار
ولا بلا ښکلي یې
ستا له دې غرونو نه ځار
سر مې په لاس کې دی، له تا زه قربانېږمه
له تا ځارېږمه
ای اریانا افغانستانه

ګلالي زلمي لرې ته
بس مېړني لرې ته
تېته شمله دې مه شه
هر ځای زمري لرې ته
دښمن دې شته ، ګورم پدې خومره خوربږمه
له تا خاربږمه
ای اریانا افغانستانه

له تانه ځار شمه زه په هزار وار شمه زه
ته مې لیلا یې زه مجنون په تا نازېږمه
له تا ځاربږمه
ای اریانا افغانستانه



# ملي ترانه

**اروانباد ملنګ جان**

دا زمونږ زیبا وطن
دا زمونږ لیلا وطن
دا وطن مو خان دی
دا افغانستان دی

دا د مینې کور زمونږ
دا د پلرو ګور زمونږ
نه ورکوو چا لره
دا د سترګو تور زمونږ
نه دی د بل چا وطن
دا دی د شېرشاه وطن
کور د خوشحال خان دی
دا افغانستان دی

دا وطن دی خان زمونږ
دا وطن ایمان زمونږ
وایي په خاپوړو کې
داسې ماشومان زمونږ
دا مو د بابا وطن
دا مو د دادا وطن
په مونږ باندې ډېر ګران دی
دا افغانستان دی

څار يې له سيندونو شم
څار يې له ډاگونو شم
څار يې د خوږونو شم
څار يې له دې غرونو شم
دا زمونږ اشنا وطن
درد له مو شفا وطن
زړگى مې پرې روښان دى
دا افغانستان دى

دا وطن زيارت زمونږ
دا وطن نعمت زمونږ
دا وطن په دې دنيا
دى لكه جنت زمونږ
دا وطن صفا وطن
زړه د ايشيا وطن

ژوندون د ملنگ جان دى
دا افغانستان دى



## افغان ملي ترانه

**عبدالباري جهاني**

دا وطن افغانستان دى
دا عزت د هر افغان دى

كور د سولې كور د تورې
هر بچى يې قهرمان دى
دا وطن د ټولو كور دى
د بلوڅو د ازبكو
د پښتون او هزاره و
د تركمنو د تاجكو
ورسره عرب، گوجر دي
پاميريان، نورستانيان
براهوي دي، قزلباش دي
هم ايماق، هم پشه يان
دا هېواد به تل ځلېږي
لكه لمر پر شنه آسمان
په سينه كې د آسيا به
لكه زړه وي جاويدان

نوم د حق مو دى رهبر
وايو الله اكبر، وايو الله اكبر